# د ارزاني خوېشکي د قادریه قلندریه نسبت یو جائزه

# A Review Analytical Studies of Arzany's kheshky and his affiliation with Qadria Qalandaria School of thought in Sufism

Dr. Zia ur Rahman Zia •

:Abstract

This research article delves into the biographical and mystic codes surrounding the literary figure Arzany Khweshky in Pashto Literature. The study primarily focuses on his relationship with Peer Rokhan and his literary influences. The investigation includes an analysis of references from Khweshky's early literary works and citations from Dr. Perviz Mahjor's Ph.D. research. Furthermore, this paper explores Arzany's affiliation with the Qadaria Qalandaria Schoo of thoughts in Sufism and decodes various aspects of his mystical journey. Contrary to prior claims, this research challenges the notion that Arzany Khweshky was a disciple of Bayazid Ansari, instead asserting him as a disciple of Shah Bahlol. Additionally, it uncovers his original name, Aziz, asserting that Arzany was his pseudonym. The analysis also incorporates his travelogue, shedding light on his visits to other countries. Lastly, the paper not only presents Arzany's genealogy but .also that of his successors

ارزاني خوېشکے د پښتو ادب او پښتانه د تاریخ هغه قداور روحاني او علمي شخصیت دے چې په هر لحاظ د احترام وړ او پخپل ذات کښې د یو انجمن حېثیت لري۔ هسې خو د بایزید انصاري المعروف پیر روښان تحریك ډېر لوئې شاعران ادیبان پېدا کړي دي چې د هر یو شخصیت او کردار پخپل ځائے مسلم او د اهمیت حامل دے ، کتابونه او تحریرونه ئې د علم او فن په کالو سېنګار دي هو ارزاني خوېشکے په دغه ټولو کښې بیا مقدم او معتبر دے۔ هغه ځکه چې که یو خوا د پښتو وړومبے صاحب دیوان شاعر دے نو بلخوا په څو ژبو د عبور لرلو او د یو ښه لیکوال سره صاحب ارادت و صاحب ارشاد هم دے۔ د تعجب خبره ده چې د مذهب په نامه د شروع شوي دې پرتشدد تحریك د ټولو لیکوالو په لیك او شاعرۍ نه یوائې د تصوف عرفاني او روحاني رنګ غالب دے بلکې په ځېنې

---

• Incharge PNS, APP Islamabad

موقعو داسې علمي نقطې ،استعارې او د عرفاني اصطلاحات راوړلو سره د حال په ژبه ذومعني اسرار هم بيانوي چې لوئې لوئې د طريقت او ارادت متصوف ورته حېران شي خو په دغه ټولو مقلدينو او مريدانو کښې کوم علم او پرکشش شخصيت چې حق تعالې ارزاني خوېشکې ته وربخښلے هغه په دنيا کښې بالعموم او په روښاني تحريك کښې بالخصوص ډېر کم تر نظره کېږي.د ارزاني خوېشکې د تحريرونو او کتابونو نه معلومېږي چې دوي په پښتو، فارسۍ ، عربۍ او هندۍ ژبو بهترين عبور لري او دا اقرار د دې تحريك مخالف اخوند دروېزه بابا هم کوي بلکې هغوي خو د خېرالبيان په ليك کښې هم د ارزاني خوېشکي نامه اخلي او دا خبره پخپل ځاے تحقيق طلب ده.بهر حال اخوند دروېزه ليکي

"و ارزاني چون شاعر تېز فهم و فصيح زبان بود در انواع ضلالت و بدعت شعر افغاني و فارسي و هندي و عربي بيان کرده و در اتمام کتاب اين لعين موافقت نموده"[۱]

ترجمه.ارزاني چونکې يو تېز فهم او فصيح زبانه شاعر ؤ.په افغاني ، فارسي ، هندۍ او عربۍ ژبه ئې قسمه قسم د ګمراهۍ او بدعت شعرونه وئېلې دي او د دې لعين (پير روښان ) د کتاب خېرالبيان په تکميل کښې ئې ورسره موافقت کړے دے.

د ارزاني خويشکې د ژوند زياتره معلومات هر څو چې د زمانې ستم او بې غورۍ پټ ساتلې وو او د وختونو سيلۍ د ځان سره وړل خو دا د دوي د علم کمال او عرفاني انعام ؤ چې په نسبت د دوي د نورو ملګرو پخپل ځاے موجود پاتي شول او نن زمونږ په وړاندې څه رابر سېره شوي او څه لا رامخې ته کېدونکې دي.ځکه چې د يوېشتمۍ صدۍ ايجادات او ټېکنالوجۍ اوس دا هرڅه ممکن کړي او فاصلې له مېنځه تللي.نن زمونږ د دې تحرير او تحقيق مقصد هم د دوي د ژوند د ورځو شپو او په خاص توګه د روحاني نسبت په بابله د خورو معلوماتو جائزه اغستل دي دغسې چې دا هر څه واضحه شي چې د دوي پېدائش چرته ، کله او د ژوند ورځې شپې په کوم ديار تېرې شوي او چرته اسوده خاك دے ، د بايزيد انصاري مريد دے که چرته د کوم بل صاحب نظر د کرم لاندې هم دے يا په کومه سلسله کښې موزون دے او تر کومه ئې په دې فاني دنيا کښې سترګې غړولې دي ؟.

ارزاني خوېشکے چې په هندوستان کښې د شاه ارزاني او ديوان شاه ارزاني په نامه شهرت لري نو اول د دوي د ذاتي پېژندګلۍ په بابله معلومات رامخې ته کول

غواړو ، د ارزاني خوېشکي د نوم په بابله د محققینو تر مینځه اختلاف دے ځوك ئې عزیز ،ځوك عزېر او څه ارزاني یادوي او استاد محترم ډاکټر پروېز مهجور خوېشکي د ارزاني کلیات په مقدمه کښې د دې درېو واړو نامو نه انکار کوي خو زما په خیال ارزاني خوېشکي پخپلو اشعارو کښې خپله نامه عزیز یادوي او یو نه څو وارې نو دا راته په هر لحاظ سمه او مناسب ښکاري ـ"

ارزانـــي عزیـــز ئـــې غـــواړي
لـــــه مـــــولې عزیـــــز اعـــــزه
کـــه عزیـــز ئـــې بـــا تمیـــز ئـــې
دا وېنـــــا کـــــړه ممیـــــزه "[۲]

او د خپل والد او کور کلي په حقله هم پخپلو اشعارو وائي:

" پـــه پښـــتو ژبـــه دې کوښـــلي
فقیـــر ارزانـــي افغـــان دے
دے پـــه خیشـــکي کښـــې لـــه زېـــر
د والـــد نـــوم ئـــې برهـــان دے "[۳]

د دې شعرونو نه د دوي د ولدیت نه تر قام قبیلې پورې معلومات تر لاسه کېږي چې په خټه پښتون دے او په پښتانه کښې د خوېشکي قبیلې د زېر زي خېل څخه تعلق لري. د ارزاني خوېشکي مزار چې د هند په پټنه نومې علاقه کښې دے او د دغې سیمې خلق ترې د پېړیو راهسې فېض اخلي او د هند په لویو لویو دربارونو او خانقاه ګانو کښې شمېرلې شي ـ دې خانقاه ته یو اعزاز دا هم تر لاسه دے چې د رشد و هدایت سره دیني درس او تدرېس او طالب علمانو ته ټېکنېکل تعلیم هم ورکوي او د خانقاه منتظمین چې د علم او تحقیق نه یو اځې شغف لري بلکې په خانقاه کښې یوه لویه مکتبه هم لري چې پکښې ډېر زاړه کتابونه او نادرې قلمي نسخې هم شته او وخت په وخت په دغه خانقاه کښې سېمنارونه او علمي مذاکرې ، پروګرامونه راجوړوي او خپل کتابونه هم چاپ کوي. دغسې د هندوستان یوه لېکواله شیبا کوثر د "نعمت ارزان ،، ایك مختصر جائزه کښې د ارزاني د زېږدنې او استوګنې په بابله لیکي ـ

"آپ کی ولادت پنجاب کے ضلع قصور میں ہوئی۔ افتاب شریعت حضرت دیوان شاہ ارزانی کا تعلق افغانستان کے قبیلہ خویشگی سے ہے۔ آپ کے والد کا نام ملا برہان الدین ہے جو اپنے وقت کے معروف عالم دین اور صوفی تھے۔ ملا برہان الدین قندہار کے وادی ارزغستان سے ہجرت کر کے قصور آئے تھے۔"[۴]

ترجمه۔د دوئي ولادت د پنجاب په قصور ضلع کښې شوے ؤ.د افتاب شريعت حضرت ديوان شاه ارزاني تعلق د خوېشګي قبيلې افغانسان څخه دے.د دوئي د پلار نامه ملا برهان الدين ده څوك چې د خپل وخت نومووړے عالم دين او صوفي ؤ.ملا برهان الدين د قندهار وادۍ نه په هجرت قصور ته راغلے ؤ.

دغسې د خانقاه حضرت ديوان شاه ارزاني په يو مختصر تعارفي کتاب کښې چې په وړومبۍ پاڼه ئې د فارسۍ دا شعر ليك دے

،، امير ملك اماني قدير قدر حق داني
جهان را جمله فيضاني قلندر شاه ارزاني"[۵]

د دوي د زېږدنې ژوند ژواك او مختلف علاقو ته د سفرونو په بابله ليکي۔

"حضرت شاہ ارزانی کی ولادت باسعادت نواح صوبہ کابل افغانستان میں ہوئی۔ تعلیم و تربیت حضرت علامہ جلال الدین سیوطی سے ہوئی۔ تعلیم سے فراغت کے بعد آپ نے اشاعت اسلام کے لئے دنیا بھر کا سفر کیا اور لاکھوں بندگان خدا کو اللہ اور اس کے حبیب کا کلمہ پڑواتے ہوئے دیوار قہقہا تک پہنچ گئے اور اللہ کے حضور میں عرض کیا،،،،اے اللہ تیری زمین آخری ہو گی نہیں تو تیرا اور تیرے حبیب کا کلمہ اور آگے تک لوگوں کو پڑواتا،،،،،اس کے بعد آپ مکہ مکرمہ پہنچ کر فریضہ حج ادا فرمایا۔ فریضہ حج کی ادائیگی کے بعد آپ مدینہ منورہ حاضر ہوئے۔"[۶]

ترجمه د حضرت شاه ارزاني ولادت کابل ته په نزدې صوبه کښې شوے ؤ.تعليم او تربيت ئې د حضرت علامه جلال الدين سيوطې څخه تر لاسه کړو د زده کړو نه د فارغيدو نه پس دوئي د اسلام تبليغ لپاره د ګردې نړۍ سفرونه وکړل او په لکهونو د خدائے بندګانو ته يې د الله او د هغه د حبيب کلمه ښودله چې تر قهقها ديوال اورسيدو او د الله په حضور

کښې یې دعا وکړه ﷺ اے خدایه که ستا زمکه تر دې ځایه اخري شوې نه وه نو ما به ستا او ستا د حبیب کلمه وړاندې نورو خلقو ته هم رسولې وه ﷺ د دغې نه پس دوئي مکې مکرمې ته لاړل او د حج فریضه یې ادا کړه د حج فریضه ادا کولو نه پس دوئي مدینې منورې ته لاړل.

په دې برنې اقتباس کښې د ارزاني خوېشکي د ولادت په حقله وئیلې شوي چې دوي سترګې د کابل په خوا کښې غړولې دي. زه په دې بابله زیات خو څه نشم وئیلے ځکه چې زمونږ سره کوم دستاویزي شواهد موجود دي هغه د دې خبرې تصدیق نه کوي او ارزاني پخپلو شعرونو کښې ځان ته قصوري هم وائې. خو کېدې شي چې د خانقاه په کتابتون یا د هندوستان په نورو کتابخانو کښې داسې څه لیك او ثبوت وي چې د هغې په بنا دوي دا خبره کړې ده. په دې به وروستو پخپل ځاے نور بحث کوو. البته تر څو چې د علامه جلال الدین سیوطي څخه د تعلیم او تربیت خبره ده نو دا ناممکن ده ځکه چې د ارزاني خوېشکي د پیدائش نه وړاندې علامه جلال الدین سیوطي د دې دنیا نه سترګې پټې کړې دي. د علامه صاحب د پیدائش او وفات په بابله په خپله تذکره کښې عبدالوهاب عبدالطیف لیکي.

> "آپ کی کنیت ابوالفضل، لقب جلال الدین اور نام عبدالرحمان بن الکمال ابی بکر محمد بن سابق، الحضری، السیوطی، الشافعی ہے۔ آپ کی ولادت یکم رجب 849 ہجری بروز اتوار بعدی از نماز مغرب ہوئی۔ شعرانی نے "الطبقات" میں ذکر کیا ہے کہ سیوطی نے 19 جمادی الاولیٰ 911 ہجری کی رات وفات پائی۔"[۷]

ترجمه د دویئ کنیت ابو الفضل ، لقب جلال الدین او نامه عبدالرحمان بن الکمال ابي بکر محمد بن سابق ، الخضري ، السیوطي ، الشافعي ده. د دوئي ولادت په وړومبي رجب 849 هجرۍ د اتوار په ورځ د ماښام مانځه نه پس شوے. شعراني په الطبقات کښې ذکر کړے دے چې سیوطي په 19 جمادي الاولې په 911 هجرۍ د شپې په حق رسیدلے ؤ.

د علامه صاحب په ۹۱۱ هجرۍ کښې د وفات کېدو تصدیق نه پس د اقتباس نورو خبرو ته راځو څنګه چې مخکښې ذکر اوشو مونږ په دې بابله لا څه نشو وئیلے خو دومره ده چې ارزاني خوېشکي یو جهان دیده او د ډېرو عالمانو د صحبت او علم نه مستفید ښکاري

او دغه هر څه د کليات داخلي شهادت تر مخه مسلم او د حقيقت تر مخ بريښي ـ اوس وړاندې ځوو چې د ارزاني خوېشکي د پېدائش تاريخ په حقله استاد محترم ډاکټر پرويز مهجور خوېشکي پخپله پي ايچ ډي مقاله کښې څه ليکي ـ

"د روښاني تحريک تاريخي پس منظر مونږ د ارزاني د زوکړې کال د ۱۵۲۲ ء نه ډېر مخکښې ګڼلو ته نه پرېږدي يعني د روښاني تحريک په رڼا کښې د ده زېږون نېټه مونږ کم نه کم درې کاله وروستو کولې شو ځکه چې کله دے د پير روښان د پيرۍ نه خبر شي او سره د درېو وروڼو چې دے پکښې د ټولو نه مشر ښکاري او بيا د اخوند درويزه بابا د دې الزام تر مخه چې د خيرالبيان په تصنيف کښې د ارزاني لاس ؤه نو د ده عمر د پينځه دېرش ۳۵ کلونو نه کم نشو ښودلے او زيات نه زيات تر ټلو ښتو ۴۰ پورې پرې قياس کولے شو نو د دې قياس په حساب مونږ د ده د زېږون نېټه ۱۵۲۲ ـ ۳ : ۱۵۲۳ ء يعني ۹۲۹ هجري خواوشا ګڼلے شو ـ[۸]

او هم د دې تحقيق تر مخه مونږ وئېلې دي چې د دوي د وفات نه مخکښې علامه جلال الدين سيوطي د دنيا نه سترګې پټې کړې دي دغسې د ارزاني خوېشکي ديوان داخلي شهادت او د حالنامه بيان چې نه يواځې ارزاني د قصور استوګن يادوي بلکې د پير روښان څخه د نسبت او بيعت کولو ذکر هم ښه واضحه کوي چې ورسره د يو بل صاحب خليفه مودود ترين او د هغه د کتاب مقصود الطالبين هم يادګېرنه کوي ـ په حالنامه کښې ليک دي ـ

" خليفه مودود ترين او ملا ارزاني د هندوستان نه راغلل او د پير دستګير مريدان شول او د برخې خاوندان شول ـ دواړو کتابونه ليکلي دي ـ د مودود ترين يو کتاب ،،مقصود الطالبين ،، ډېر مشهور کتاب دے ـ ارزاني په پښتو کښې هم يو ديوان ليکلے دے او په هغې کښې ئې ډېرې ښې ښې رباعيانې هم ليکلې دي او د هغه مرات المحققين د فارسي يو خوندور کتاب دے"[۹]

د ارزاني خوېشکي د قام قبيلې، استوګنې او پيدائش په بابله د معلومات وړاندې کولو نه پس او د حالنامې د بيان نه وروستو چې دوي د بايزيد روښان مريد او ارادت مند يادوي. اوس راځو ګورو چې دوي د طريقت په پرکېفه لارو د پير روښان سره تر کومه تللي او په کومه سلسله کښې موزون دے او که د چا بل کامل صاحب بصيرت مريد يا خليفه مجاز دے.حالنامه خو ډېره په واضحه ټکو د هندوستان نه د دوي د راتللو سبب او د پير روښان نه د لاس نيوې ذکر کوي خو د غور او تعجب خبره دا ده چې ارزاني خوېشکي په خپل ديوان کښې د بايزيد سلوك يا د طريقت د ۸ مقاماتو يعني شريعت ، طريقت ، حقيقت ، معرفت، قربت، وصلت، وحدت، سکونت، پرله پسې او ځاے په ځاے پخپلو اشعارو کښې سره د پير کامل تکرار کوي خو د کامل نامه چرته هم نه اخلي چې دا څوك دے ؟ چرته کوم بل يو صاحب دے او که نه پير بايزيد يادوي ؟.په دې لړ کښې استاذ محترم ډاکټر پرويز مهجور د ارزاني کليات په مقدمه کښې ليکي.

"ارزاني که هر څو لکه د نورو پير بهايانو د خپل پير نوم ډېر نه اخلي خو هغه پخپل ټول ديوان کښې خپل پير صرف په دې رباعۍ کښې په خپل نوم ياد کړے دے.

د الـــــف دغـــــه بـــــازي ده
لـــــه منصـــــوره لـــــه بايزيـــــد ده
لـــــه هـــــر چـــــا محـــــيط همـــــان دے
لـــــه بايزيـــــده تـــــر بايزيـــــده[۱۰]

د استاذ محترم نه په اجازت او زما د لږې لوستې تر مخه ارزاني پخپل کليات کښې د بايزيد نامه يوه نه څلور يا پينځه وارې اخلي.اول په دې برنو شعرونو کښې چې د بايزيد نه تر بايزيده.نو زه د استاذ محترم سره په دې حقله اتفاق نشم کولے ځکه چې د ارزاني په کليات کښې څلور پينځه ځايه د بايزيد نامه راغلې چې پکښې دوه ځايه د حسېن بن منصور حلاج د ذکر سره او يو ځاے د يزيد سره. د دې ټولو نه مراد سلطان العارفين حضرت بايزيد بسطامي رحمته الله عليه دے لکه د دې برني شعر مطلب دا دے چې کوم رياضت، مجاهده ،طلب او توفيق يا فکر چې حق تعالې بايزيد بسطامي ته نصيب کړے هغه بس هم د هغوي تر ذات محيط او محدود پاتې شوے.په دې حقله امام الغزالي په

جوهر القران ودروه کښې هم بيخي دغه قول راغستې.چې دا رياضت ، مجاهده او کړاؤ د بايزيد بسطامي نه شروع شوي او هم په هغه تمام شوي.اوس راځو دې بل شعر له چې پکښې دلته هم ورسره حسين بن منصور حلاج ياد شوے دے.

" د منصــــور پــــه ســــر ولاړه
د انــــا لويــــه بنبلــــه
بايزيــــد ســــبحاني ولوســــت
د خپــل حــې زړه لــه هېکلــه "[۱۱]

څه د کمال طنز او د اظهار ملکه د دې شعر ميراث دے.دا اشعار ثبوت او دلائل دي د ارزاني خوېشکي د علميت ، د طريقت د پرکيفه وارداتو او په څو ژبو د عبور لرو.دې شعر کښې صعنت تلميح استعمال شوے او هغه مشهوره واقعه يادوي چې پکښې سلطان العارفين بايزيد بسطامي وئيلې "سبحاني ما اعظم شاني" يعنې زه پاك يم او زما شان ډېر لوئې دے.په دې حقله احسن احمد د تذکرته اولياء تر مخه ليکي.

"ایک دفعہ حالت وجد میں آپ نے کہہ دیا کہ سبحانی ما اعظم شانی یعنی میں پاک ہوں اور میری شان پاک بڑی ہے۔اور جب وجد کے بعض ارادت مندوں نے سوال کیا کہ یہ جملہ آپ نے کیوں کہا" فرمایا کہ مجھے تو علم نہیں کہ میں نے ایسا کوئی جملہ کہا ہے۔"[۱۲]

ترجمه.يو ځل د وجد په حالت کښې دوئي وفرمائيل سبحاني ما اعظم شاني يعني زه پاك يم او زما شان ډېر پاك دے.خو چې د وجد نه پس ځينې ارادت مندو پوښتنه وکړه چې دا جمله تاسو ولې ووئيله نو وې فرمائيل چې ماته خو علم نشته چې ما داسې کومه جمله وئيلې ده.

ارزاني خوېشکے واقعې چې جهان ديده دے لکه څنګه چې وړاندې ذکر شوے ارزاني يو عالم فاضل متصوف او د حال په مستئ مست فقير دے او د علم بيان او د هرې خبرې په ليکلو يا نه ليکلو په رموز او هنر پوهېږي.دغسې زما د تحقيق مطابق د ارزاني خوېشکي علمي ، لساني عبور او ذوق ته چې اوګورو نو ښکاري داسې چې هغه يو کثير التصانيف شخصيت دے او د ډېر علم سره د لطيف احساس څښتن او په باريکو نقطو دسترس لرونکے دے.د ده د لساني او زهني فهم او زېرکتيا قائل د هغه مخالف اخوند دروېزه بابا هم دے. اول که دا هر څه د زمانې ګردونو پټول خو اوس د سائنس ترقئ د

تحقیق کار اسان او لا مدلل کړے نو په دغې بناء ما ته د ارزاني خوښکي د لیکونو او کتابونو فهرست د یو صاحب حال او پس سهروردي نه تر لاسه شو کوم چې د لوستونکو لپاره باعث مسرت او پر کشش دے۔

یہ پشتو شاعری کا مجموعہ ہے جو کئی ہزار اشعار پر مشتمل ہے۔

1) مختصر دیوان

یہ فارسی اشعار پر مشتمل ہے۔ایک رباعی ملاحظہ فرمائیں۔

ہے محو شدن بے حق رسدن
نتوان
ہے فقر جمال عشق دیدن نتوان
تایک سر موز بستی باقی
از جام فنا جرعہ کشیدن
نتوان

2) مراۃ المحققین

فارسی زبان میں ہے رموز تصوف موضوع ہے۔

3) سفر نامہ

یہ ایک ضخیم کتاب ہے۔[۱۳]

ترجمه دا د پښتو شاعرۍ مجموعه ده چې په څو زره شعرونه مشتمله ده.

1) مختصر دیوان

دا په فارسۍ شعرونو مشتمل دے۔د دې یوه رباعي اوګورۍ.

2) مراته المحققین

په فارسۍ ژبه کښې دے او د تصوف رموز یې موضوع ده.

3) سفر نامه

4) دا يو ضحيم کتاب دے۔

د ارزاني د تصانيف او تاليفات په برني فهرست کښې د يو ضحيم کتاب چې سفر نامه ده ذکر هم شامل دے او دا هغه خبره ده چې نه يوائې ډېرې نااشنا خبرې به رامخې ته کړي ډېر سپيناوي به وکړي بلکې ډېر نه معلوم واقيعات او د تاريخ پټې شوې پاڼې او مخونه به هم لوستونکو ته ورمخې ته کړي او په دې بناء مونږ بره پخپلو خبرو کښې د هندوستان د محقيقينو بيان کړي واقيعات او حالات ونه چېړل اوس به د ارزاني خوېشکي د دنيا نه د سترګو پټولو يا د ژوند د اخري ورځو شپو په بابله خپل معلومات وړاندې کړو چې دا پښتون فقير ،عالم ، شاعر او اديب تر کومه وخته حيات ؤ.په دې حقله استاذ محترم ډاکټر پروېز مهجور خوېشکي رقم طراز دے۔

"د ارزاني د مړينې په حقله حالنامه څه نه وائي۔د ارزاني ديوان تر مخه د ده د ژوند اثار تر ۱۰۱۰ ه يعني ۱۲۰۱ پورې يقيني دي خو په ۲۰۰۲ کښې د بي بي سي په اردو سروس کښې د عبدالخالق رشيد د يوې خبرې او د نعيمه احمد مهجور د پېشکش تر مخه د هند د بهار صوبې په۔پټنه۔نومې ښار کښې د ده قبر او مشهور زيارت دے او د دغه قبر په کتبه باندې د ده د مړينې کال ۱۰۲۸ ه ليك دے"[۱۴]

دا خبره بيخي سمه او واضحه ده او مونږه پخپلو برنو کرښو کښې دا وئيلې دي چې د ارزاني خوېشکي مزار د هند په پټنه ښار کښې دے او هلته د ديوان شاه ارزاني په نامه شهرت لري۔د ارزاني خوېشکي دربار چې يوه تاريخي خانقاه هم ده د رشد و هدايت او د اولس د فيض زريعه ده۔هغوي د خانقاه شاه ديوان ارزاني قدس سره پټنه په نامه يو مختصر تعارفي کتاب چاپ کړے چې پکښې د وفات د تاريخ سره څه نور اهم معلومات هم شته۔ هغوي ليکي:

"آپ کا وصال 3 ذی الحجہ 1028ھ کو ہوا۔ آپ کے بعد آپ کے مرید خلیفہ
قطب الاقطاب حضرت شاہ شجاول دیوان قدس سرہ العزیز 1062ھ آپ کے جانشین اور
خانقاہ حضرت دیوان شاہ ارزانی کے سجادہ نشین ہوئے۔"[۱۵]

ترجمہ د دوئي وصال په 3 ذي الحجه1028 ه شوے. د دوئي نه وروستو د دوئي مريد قطب الاقطاب حضرت شاه شجاول ديوان قدس سره العزيز په 1062 ه کښې د دوئي جانشين او د خانقاه حضرت شاه ارزاني سجاده نشين شو.

دغسې اوېس سهروردي پخپله مقاله کښې د دوي د وفات په حقله په لا وضاحت سره ليکي:

"وصال وتدفین

ذی الحج ھ

اپنی خانقاہ کے قریب مدفون ہوئے۔ شاہ جہان جو آپ کا عقیدت مند تھا نے
1040ھ میں روضہ تعمیر کروایا جس کے دروازے پر تاریخ وصال کنندہ ہے۔

رقت قطب زمان بہ اسانی
بہ ریاض بہشت نورانی
سال فوتش ز فیض لمہم غیب
گفت دل شاہ جنت ارزانی [۱۶]

ترجمه په حق رسيدل او سپارل
ذي الحج 1028 ه

د خپلې خانقاه خواته خاورو ته وسپارلے شو .شاه جهان څوك چې د دوئي عقيدت مند ؤ په 1040 ه کښې ددوئي روضه جوړه کړه او د کومې په دروازه چې د وصال دا نيټه ليك ده.

د ارزاني خوېشکي د ديوان نه ثابتېږي چې هغه نه يوائې په څو ژبو عبور لرلو بلکې د ډېرې وسيع مطالعې خاوند هم ؤ ځکه چې د ديوان د اشعارو نه ئې ښکاري چې د

عربي ، فارسي ، پښتو او هندي ژبې پشمول ئې د تاريخ ، فقه ، تفسير ، احاديث ، تصوف او د علم نجوم سره ئې بلها څه وئيلي او لوستي دي.

دغسې د ارزاني خويشکې د يو متصوف شخصيت او د طريقت شجرې په اړه معلومات راوړل او بحث به نه يوائې د دوي د اصل پيژنګلي سوب شي بلکې د روښاني تحريک بنيادي او مستند معلومات به رامخې ته شي .دې سره به مونږ ته د ارزاني خويشکي د شخصيت پيژندګلو اسانه شي او د دوي د قد اور شخصيت لوستونکو او اولس ته ورمخې ته کولو کښې به يو منصفانه او بهتر کردار ادا کړے شو او د دغې نه پس به بيا نور خپل محسوس کړي او د نتيجې ور خبرې لوستونکو ته کيدو . د ديوان شاه ارزاني د خانقاه منتظمين د دوي د طريقت شجره قادريه قلندريه يادوي او هم دا اصل نقطه ده چې زمونږ به وړاندې رهنمائي کوي. چې تفصيل ئې دا سې دے.

يا الٰہی اپنے رسول اللہ سر باطن سے کر مجھے آگاہ
بہر راز او نیاز سر خفی حضررت مرتضٰی علی ولی
بہر راز و نیاز راہبری حضرت خواجہ حسن بصری
بہر خواجہ حبیب عجمی مجھ کو کر مست بادہ اطہر
کر خواجہ داؤد طائی امجد
بہ ترویح عاشق سرمد خواجہ معروف کرخی ذی جاہ
بہر ترویج عاشق اللہ حضرت خواجہ سری سقطی
بہر ترویح تاجدار ولی دے مجھے قید غم سے آزادی
بہر خواجہ جنید بغدادی عاشق اللہ شبلی عصر
بہر ترویح شاہ ابوبکر شاہ عبدالعزیز یمنی نام
بہر ترویح اولیاء کرام یوسف مہ لقا و طرطوسی
بہر شاہ ابو الفرح نامی جن کا ہنکاری ہے جہان میں لقب
بہر شاہ ابوالحسن یارب المبارک خطاب مخذومی
بہر شاہ ابو سعید ولی قطب الاقطاب شاہ جیلانی

بہر ترویج غوث صمدانی خانہ دل کو کر دے نور آگئیں
بہر ترویج شاہ نور الدین عبدالرزاق شاہ بحر کرم
بطفیل جناب فیض اتم سید احمد ہیں باد پامشہور
بہردادا حیات نور ظہور بحر خطاب عالی جاہ
بہر بہلول شاہ دین پناہ قطب دیوان شاہ ارزانی ۱۷
بہر مفتاح گنج عرفانی

د خانقاه منتظیمنو له خوا چې کومه شجره د طریقت ورکړې شوې د دې به یقیني ده چې د هغوي سره څه دستاوېزي ثبوت او دلائل وي چې پکښې ارزاني خوېشکے د شاه بهلول مرید په سلسله قادریه قلندریه کښې ښودلے شوے. د شاه بهلول خانداني نامه بهلول او شاه لقب دے.په پنجاب کښې د جهنګ اوسېدونکے او د ارزاني همزولے او همعصر دے. دغسې د ارزاني خوېشکي په دیوان کښې یو شعر داسې هم شته چې پکښې په ذومعني ډول د بهلول ذکر کوي.

"چې د کور بهلول نه وینې
مول ئې کم دے تر بهلولي"۱۸

دلته د شاه بهلول لنډه پېژندګلو به بے ځایه نه وي او یقیني ده چې د دوي مختصر تعارف وړاندې کول به زمونږ لاره نوره اسانه او عام فهمه کړي.

"بزرگان پنجاب میں بڑے پایہ کے بزرگ گزرے ہیں۔ صاحب فضل و کمال اور خوارق و کرامات تھے۔ بڑے عابد وزاہد و گوشہ نشین تھے۔ اکثر حالت استغراق وجذب وسکر میں رہا کرتے تھے۔ نعمت باطنی حضرت جمال اللہ حیات المیر (قندہارے بابا) فرزند پنجم سید عبد الرزاق خلف حضرت شیخ عبدالقادر جیلانی غوث الاعظم سے پائی تھی۔"۱۹

ترجمه د پنجاب په بزرګانو کښې ډېر لوئي بزرګ تیر شوے دے. د فضل و کمال خاوند او خوارق و کرامات ئې لرل.لوئي عابد زاهد او ګوشه نشین ؤ.زیاتره به د استغراق جذب او د سکر په حالت کښې اوسیدو.باطني نعمت ئې د حضرت جمال الله حیات المیر

(قندهاري بابا) نه ترلاسه کړې ؤ کوم چې د سيد عبدالرزاق پينځم فرزند او د حضرت شيخ عبدالقادر جيلاني غوث الاعظم خليفه ؤ.

دا خبره ډېره وزن داره او د حقيقت سره سمې خوري ځکه چې زمونږ په هېواد کښې زياتره خلق شاه بهلول رحمته الله علېه د حضرت عبداللطف بري امام مريد يادوي او دغه دعوې د حقيقت او ثبوت نه لرې راته ښکاري ځکه چې د شاه بهلول د وفات ۱۰۳۹ ه نه يو څو کاله مخکښې په ۱۰۲۲ هجري کښې بري امام دنيا ته راغلے دے. په دې برنې اقتباس کښې شاه بهلول د حيات المير المعروف قندهاري بابا مريد ښودلے شوے څوك چې د قادريه سلسلې شيخ دے. دا خبره زما په خيال ذهن اخلي او د حقيقت نه لرې هم نه ښکاري يا خو په شجره کښې د کاتب نه کمزوري شوې او يو د حيات المير نامه ترې پاتې شوې ځکه چې نوره شجره بيخي زمونږ د شجرو او تفصيل سره سمون لري يا بيا دا هم کېدې شي چې شاه بهلول د حيالت المير قندهاري بابا مريد دے او د سيد احمد باد پا سره د قربت او نياز مندي په وجه ورته د دوي مريد وشبلے شوے وي يا بيا د دوي نه احتراما بيعت وي. سيد احمد باد پا رحمته الله علېه څوك چې د پېران پير عبدالقادر گېلاني خوريئے دے او په سلسله مداريه کښې بيعت دے. دا هم کېدے شي چې د عبدالقادر گېلاني صېب په نسبت ورته قادري وئېلې شي يا د خپل ماما پېران پير نه په قادريه مبارکه کښې هم بيعت ؤه او شاه بهلول رحمته الله علېه دوي له ئې په قلندريه سلسله کښې خلافت ورکړے وي او يا دا چې حق تعالې په چا ډېر کرم او انعام وکړي او اعلې مراتب ورته عطاء کړي نو هغه هم بيا په قلندريه خطاب ونمانځلے شي .گېنې دوي پخپله پيران پير صېب د دوي شيخ بديع الدين مدار رحمته الله علېه ته سپارلې وو. د تذکره سيد احمد بادپا مصنف ليکي.

"جب ایک سفر میں شاہ مدار بغداد پہنچے اور حضرت عبدالقادر جیلانیؒ سے ان کی ملاقات ہوئی تو انھوں نے اپنے بھانجے سید احمد بادپاؒ کو شاہ مدار کے حوالہ کر کے ان کی تعلیم اور تربیت کے متعلق تاکید کی۔" ۲۰

ترجمه چې کله په يو سفر کښې شاه مدار بغداد ته اورسيدو او د حضرت عبدالقادر جيلاني سره د دوي ملاقات اوشو نو هغوي خپل خورئے سيد احمد بادپا شاه مدار ته وسپارلو او د هغوي د تعليم او تربيت ئې ورته تاکيد وکړو.

دا خو د ارزاني خوېشکي د دربار او خانقاه د منتظمينو تحقيق او دعوې ده چې شاه بهلول د ارزاني خوېشکي مرشد شوے او سيد احمد باد پا د شاه بهلول شيخ ياد کړے شوے۔ خو تر څو چې د حضرت سيد احمد بادپا د مداريه سلسلې تعلق دے نو دا سلسله ځانله يو مسلسل شجره لري او شاه بديع الدين مدار په هند کښې د دې سلسلې شيخ دے او دغسې حضرت سيد احمد باد پا د دوي مريد او خليفه مجاز دے۔ په دې حقله سيد شفيق احمد ليکي۔"

*"شاہ بدیع الدین مدارؒ متوفی 844ھ ہندوستان میں نویں صدی کے مشاہر اور معمر اولیاءاور مشائخ میں سے ہیں اور ان کی ذات سے اس ملک میں سلسلہ مداریہ کا رواج ہوا۔"* [۲۱]

ترجمه شاه بديع الدين مدار ارواښاد په 844 هجرۍ کښې په هندوستان کښې د انمې صدۍ مشاهير ۔ د لويو اولياء او مشائخو څخه ؤ او د دوي د ذات څخه په دې هېواد کښې مداريه سلسله پېل شوه۔

دلته يو بل وضاحت هم کول غواړو هر څو چې مداريه سلسله خپل وجود لري۔ خو اکثر هغه مشائخ او مريدان چې چا ته د قطب مدار صحبت حاصل شي هغوي هم ځان ته مداريه ليکي۔ دوېمه دا ځېنې محقېقنو د ارزاني خوېشکي نسبت هم د سهرورديه سلسلې بزرګانو سره ياد کړے خو دا غلط فهمي شايد چې د بايزيد انصاري د نسب شجرې له امله شوي وي ځکه چې حالنامه کومه شجره د بايزيد انصاري يادوي په هغې کښې يو نوم په شپږمه پېړۍ کښې د شيخ شهاب الدين عمر سهرودردي د خليفه سلطان ابراهيم دانشمند هم دے۔ حالنامه دا شجره داسې بيانوي۔

"بايزيد انصاري ولد قاضي عبد االله ولد شيخ محمد ولد شيخ بايزيد پرنده ولد شيخ محمد ولد شيخ مولانا ابراهيم دانشمند [۲۲]"

دغسې دا يو حقيقت دے چې تر اوسه د تر لاسه شواهدو تر مخه بايزيد د چا مريدي نه ده کړې هغه دا سعادت به زور بازو د تر لاسه کولو هڅې کولې چې په نورو لارو سر شو ۔څه خلق بايزيد د اوېسيه نسبت سره تړي خو اوېسيت يو خصوصي انعام دے د حق تعالې له خپلو انعام يافته شوو په زريعه پخپلو خاص بندګانو د برزخ له لوري۔ بايزيد روښان چې کومې بې بنسته خبرې کوي په خاص توګه هغه اقوال چې د اولياء الله د خلو

ګفت دي او دي ورته احاديث وائي په اوسيت کښې داسې ناممکن وي. د دېوان شاه ارزاني خانقاه لخوا چې کوم تعارفي کتاب چاپ شوے په هغه کتاب کښې دا پورته شجره ښودلې شوې او د بايزيد انصاري پير روښان په بابله پکښې بيخي خاموشي اختيار کړې شوې. دغه کتاب يو خوا د ارزاني خوېشکي د ډېرو ملکونو د سفرونو حال بيانوي او بېلو ملکونو ته د ۳۲۰ خلفاء د لېږلو ذکر هم کوي چې يو پکښې حضرت سيد شاه عبدالله کرماني رحمته علېه هم دے د چا مزار چې په مغربي بنګال هند کښې دے او واقيعه ئې داسې رانقل شوې.

Saiyad Shah Abdullah Kirmani was born in kirman, "

Iran.His date of birth is not known. At a young age he left kirman and came to India where he visted Muslim saint Hazrat Makhdoom Shah Arzani.Hazrat Makhdoom shah Arzani directed him to go to Bengal and gave him a thothpick of chambeli wood.He told him to stay at the place where the ۲۳toothpick become fresh and green.=

ترجمه. سيد شاه عبدالله کرماني په کرمان ايران کښې زېږېدلے وُه د هغوي د زېږدنې تاريخ معلوم نه دے. په هلکوانئ ئې کرمان پرېښودے او هندوستان ته راغلے چرته چې د هغوي ملاقات د مسلمان صوفي بزرګ حضرت مخدوم شاه ارزاني سره شوے .حضرت شاه ارزاني هغوي ته بنګال ته د تللو حکم وکړو او ورله ئې د غاښونو پاکولو د چامبېل يو ډکے ورکړو او ورته ئې اووې چې هلته به استوګنه کوې چرته چې دا ډکے تازه او شين شي.

نو زه نه پوهېږم چې ولې د بايزيد انصاري نه د هغوي د لاس نيوې کولو ذکر نه کوي. ځکه د خانقاه په کتاب کښې د ارزاني خوېشکې د اسفار پورا تفصيل شامل دے لکه دا چې.

"آپ بحکم سرور دو جہان مالک کون و مکان حضرت محمد ﷺ ہندوستان کی طرف بغداد کے راستے روانہ ہوئے۔ پہلے پیران پیر دستگیر غوث الاعظم حضرت عبدالقادر جیلانیؒ کے آستانے پر حاضر ہوئے۔ بغداد کے بعد آپ اجمیر حاضر ہوئے۔ اس کے بعد لاہور اور دہلی میں قیام کیا اور اکبر کے پھیلائے ہوئے "این ای" سے پیدا شدہ خرابی کو دور فرمایا۔ پھر پہلی بھیت،

بریلی او بنارس کے راستے سیوان تشریف لائے سیوان میں کچھ دنوں تک قیام کیا (جہاں آپ نے قیام کیا تھا وہ جگہ اب بھی لکری درگاہ کے نام سے مشہور ہے) اور وہاں سے بنگال کا سفر کیا۔ بنگال سے واپسی کے بعد عظیم آباد تشریف لائے۔ چند دنوں تک موضع صندل پور میں قیام کیا ۔ یہاں سجادہ رشد وہدایت سجا بچھا کر باضابطہ تبلیغ دین، تزکیہ نفس اور اصلاح باطن کا کام کیا اور اپنے 360 خلفاء کو دنیا کے مختلف حصوں میں اشاعت اسلام اور تبلیغ دین کے لئے پھیلا دیا ۔"۲۴

ترجمه دوئي د دواړو جهانونو د سرور او د کون و مکان د مالك حضرت محمدؐ په حکم د هندوستان په لور روان شو. اول د پیران پیر دستګیر غوث الاعظم حضرت عبدالقادر جیلاني په استانه حاضر شول او د بغداد نه پس اجمیر ته لاړل. د دغې نه وروستو په لاهور او ډهلي کښې دوئي قیام وکړو او د اکبر د خپور کړي دین الهي څخه راپیدا شوې خرابۍ یې لرې کړې. بیا یې پیلي بهیت ، بریلي او د بنارس د لارې سېون ته تشریف راوړو. سېون کښې یې څو ورځې قیام وکړو (چرته چې دوئي قیام کړے ؤ هغه ځائے اوس هم د لکري درګاه په نامه مشهور دے) او د هغه ځائے نه بنګال ته لاړو. د بنګال نه په ستنیدو دوئي تشریف عظیم آباد ته راوړو. څو ورځې یې په صندل پور کلي کښې تېرې کړې. دلته یې د رشد او هدایت سره باقاعده د دین تبلیغ ، تزکیه نفس او د باطن د اصلاح کار وکړو او خپل 360 خلفاء یې د دنیا بېلا بېلو برخو ته د اسلام اشاعت او د دین تبلیغ لپاره ولېږل.

اوس راځو خپلې اصل مدعا له چې ولې د ارزاني خوېشکي په تحریرونو او شاعرۍ کښې د بایزید روښان نامه نشته. زما په خیال د دې یوه وجه دا کېدې شي چې ارزاني د بایزید نه پس احتراما او طیبه بیعت کړے دے لکه د مثال په توګه ډېر داسې صاحب ارادت خلفاء یا مریدان وي چې د برکت یا د احترام په توګه د خپلې زمانې د مشهور او لوئي ولي الله نه باوجود له دې چې خپل شیخ ئې حیات وي بیعت کوي. ځکه اکثر لوئي لوئي صوفیان د یوې نه په زیاتو سلسلو کښې موزون وي. او که داسې وي یعنې زمونږ موقف درست وي نو بیا دا به هم هسې ګمان نه وي بقول د حضرت اخون درویزه چې د بایزید په تحریرونو یا لیکونو کښې د ارزاني خوېشکي لاس دے او وروستو د بایزید نه خفه هند

ته تلے دے۔د طریقت د ۸ مقاماتو مسلسل تکرار د ارزاني په شاعرۍ کښې بیا دا شك هم راپیدا کوي چې دا ۸ مقامات د بایزید نه د ارزاني خوېشکي یا د دوي د کوم بل شیخ او مرشد تعلیم او اسباق دي.

پښتانه وائي که پیر خس دے مرید له بس دے۔ داسې ممکن نه ده چې د خپل پیر و مرشد د علم او تربیت بیا بیا ذکر او تعریف کېږي او د هغوي نامه نه اغستلې کېږي ۔د ارزاني خوېشکي په کلیات کښې د منصور حلاج ، بایزید بسطامي ، د فرید الدین عطارد منطق الطیر ، د شیخ سعدي شیرازي ، د سید حسن لقب شاه برهنه اود یو لوئي صوفي او کامل غوندې د حال په ژبه د مولې غریب نواز ذکر کوي چې په معنې ئې ډېر کم عشاق پوهېږي نو د بایزید روښان څنګه نه کوي۔دا یوه نفسیاتي او اعتقادي مسئله هم ده چې پیر خپل مرید ته د هر څه نه عزیز او معتبر وي۔مرید ګام په ګام د پیر د تعلیم و تربیت صفتونه کوي او د قلبي واردات پشمول د کشف و کرامات په وېنا او صفات نه مړېږي.

که داسې نه وي نو بیا دوئمه وجه ئې د حکمت عملۍ کېدې شي چې د پښتونخوا د غرونو او سرحدونو نه لرې ارزاني خوېشکي چې مرشد ئې سره د زامنو د اکبر بادشاه شدید مخالفت کوي نو د ریاست له وېرې به دوي د خپل پیر ذکر نه کوي او خپل پروګرام او مشن به مخ په وړاندې بوځي لکه دا شعر تاسو ولولئ۔

"چې د زړه هدف ئې وو بشت
دے مسند عالي سر مور دے
په دا افغاني فتور کښې
د یوه الف انځور دے"۲۵

او یا به بیا د یو بل لفظ او نوم سپیناوے او تحقیق ضروري وي جې پیر میان څوك دے ځکه چې دوي پخپل دیوان کښې دا ذکر هم کوي. مونږ مخکښې عرض کړے چې د خانقاه منتظمینو کوم معلومات پېش کړي په خاص توګه د سفرونو په بابله دا به عبث خبرې نه وي۔د دې به ضرور څه حقیقت او دلیل او دستاوېز وي ځکه چې د هند لوئې لائبرېرۍ هم د قلمي نسخو مراکز دي۔دغسې د خانقاه د خلفاء یا سجاده نشینو چې کوم فهرست د تاریخونو سره هغوي لري او چاپ دے هغه ځانله ډېر زړه راښکونکے دے او پخپله یو تاریخ دے۔د فهرست تفصیل دا دے۔

1) حضرت شاه شجاول ۱۰۲۴ ه

2) حضرت شاه شهباز ۱۱۲۲ ه

3) حضرت سید شاه بسنت ۱۱۵۸ ه

4) حضرت سید شاه کریم ۱۱۸۵ ه

5) کفرشکن حضرت شاه غلام حسېن ۱۲۱۱ ه

6) حضرت سید شاه کریم بخش ۱۲۵۲ ه

7) حضرت سید شاه عباد الله ۱۲۲۰ ه

8) حضرت سید شاه غلام نجف ۱۳۰۸ ه

9) حضرت شاه حېدر علي ۱۳۱۲ ه

10) سید شاه حامد حسېن ۱۳۸۷ه

11) حضرت شاه عاشق حسېن ۱۴۲۲ ه "[۲۲]

" بس دا به اووایو چې د دې هر څه باوجود مونږ حتمي پرېکړه لا نشو کولې چې تر ثو نور مستند معلومات لاس له رانشي او دغې ته به انتظار کوو چې دغسې د دې لوئې عالم ،فاضل شاعر ،ادیب او صاحب ارشاد حقیقي او رېښتني پېژندګلي لوستونکو او عقیدت مندو ته وړاندې کړو.

# حوالې


1) خوېشکے ډاکټر پروېز مهجور ، د ارزاني خوېشکي کليات مقدمه ، پښتو اکېډېمي ،پېښور يونيورسټي ، ۲۰۰۵، ص ۸۴

2) خوېشکي ارزاني، د ارزاني خوېشکي کليات، پښتو اکېډېمي ،پېښور يونيورسټي ، جون ۲۰۰۵ ، ص ۲۲۸

3) خوېشکے ارزاني ، د ارزاني خوېشکي کليات، پښتو اکېډېمي ،پېښور يونيورسټي،جون ۲۰۰۵ ، ص ۳۵۶

4) https://adbimiras.com/nemat-e-arzaan-aik-mukhtasar-jayeza-by-sheeba-kausar/

5) ارزا شاهي ،نظير احمد خان و مفتاح الدين محمد فاتح، خانقاه حضرت ديوان شاه ارزاني قدس سره پټنه ايك تعارف، مكتبه ارزاني، خانقاه حضرت ديوان شاه ارزاني پټنه، ص ۱

6) ارزا شاهي ،نظير احمد خان و مفتاح الدين محمد فاتح، خانقاه حضرت ديوان شاه ارزاني قدس سره پټنه ايك تعارف، مكتبه ارزاني، خانقاه حضرت ديوان شاه ارزاني پټنه، ص ۴

7) https://magazine.mohaddis.com/home/articledetail/2578

8) خوېشکي ،ډاکټر پروېز مهجور ، مقدمه د ارزاني کليات، پښتو اکېډېمي ،پېښور يونيورسټي،۲۰۰۵، ص ۲۳

9) مخلص علي محمد ، حالنامه،ترجمعه ډاکټر عبدالقدوس عاصم، پښتو اکېډېمي ، پېښور يونيورسټي، ،۲۰۱۹ ، ص ۳۹۸

10) خوېشکي ، ډاکټر پروېز مهجور ، مقدمه د ارزاني خوېشکي کليات، پښتو اکېډېمي ،پېښور يونيورسټي، ۲۰۰۵، ص ۷۰

11) خوېشکي ارزاني ، د ارزاني خوېشکي کليات ، پښتو اکېډېمي ،پېښور يونيورسټي، ،۲۰۰۵ ، ص ۳۰۶

12) کتاب ـــــــــــــــــ؟

13) *https://www.urduweb.org/mehfil/threads/%D8%A7%D9%82%D9%88%D8%A7%D9%84-%D8%AD%D8%B6%D8%B1%D8%AA-%D8%A8%D8%A7%DB%8C%D8%B2%DB%8C%D8%AF-%D8%A8%D8%B3%D8%B7%D8%A7%D9%85%DB%8C-%D8%B1%D8%AD%D9%85%DB%81-%D8%A7%D9%84%D9%84%DB%81-/%D8%B9%D9%84%DB%8C%DB%81.92260*

14) خوېشکي ډاکټر پرويز مهجور، مقدمه د ارزاني کليات، پښتو اکېډيمي ، پېښور يونيورسټي، ۲۰۰۵، ص ۲۳

15) ارزا شاهي نظير احمد خان، فاتح مفتاح الدين محمد، خانقاه حضرت ديوان شاه ارزاني قدس سره پټنه ايك تعارف، مکتبه ارزاني، ۲۰۰۳ ، ص ۵

16) *https://m.facebook.com/story.php?story_fbid=pfbid0yHq4g3AAhyx1uXqDQyFzhTFfECg5xi8LmH6ke5LoVzvU3rBz3XFCHKcij861Spw6l&id=1309075156&mibextid=Nif5oz*

17) ارزا شاهي نظير احمد خان،فاتح مفتاح محمد، خانقاه حضرت ديوان شاه ارزاني قدس سره پټنه ايك تعارف، مکتبه ارزاني، ۲۰۰۳، ص ۱۳ ، ۱۴

18) خوېشکي ارزاني ،د ارزاني خوېشکي کليات، پښتو اکېډيمي،پېښور يونيورسټي، ۲۰۰۵، ص ۳۸۰

19) *https://scholars.pk/ur/scholar/hazrat-sheikh-behlol-dryai*

20) سيد شفيق احمد، تذکره سيد احمد باد پا، شعبه نشر و اشاعت ،استانه عاليه درگاه شريف، ندارد، ص ۲

21) سيد شفيق احمد، تذکره سيد احمد باد پا، شعبه نشر و اشاعت استانه عاليه درگاه شريف، ندارد، ص ۴

22) مخلص علي محمد ، حالنامه، پښتو اکېډيمي، پېښور يونيورسټي، ۲۰۱۹ ، ص ۲۳

23) *http://dargahinfo.com/Dargah_History.aspx?HID=111*

24) ارزا□ شاهي نظير احمد خان، فاتح مفتاح الدين محمد ، خانقاه حضرت ديوان شاه ارزاني قدس سره پټنه ايك تعارف، مكتبه ارزاني، ۲۰۰۳ ، ص ۵

25) خوېشـكي ارزانـي، د ارزانـي كليـات ، پښـتو اكيډېمي ،پېښـور يونيورسـټي، ۲۰۰۵، ص ۳۲۴

26) ارزاں شاہی نظير احمد خان، فـاتح مفتـاح الـدين محمـد ، خانقـاه حضرت ديـوان شـاه ارزاني قدس سره پټنه ايك تعارف، مكتبه ارزاني، ۲۰۰۳ ، ص ۱۳.۱۲

Refrences


1) *KHWESHKI DR PERVAIZ MAHJOOR, MUQADMA DA ARZANI KHESHKI KULYAT, PASHTO ACADEMY,PESHAWAR UNIVERSITY ,2005,P 84*
2) *KHWESHKI ARZANI,DA ARZANI KULYAT, PASHTO ACADEMY,PESHAWAR UNIVERSITY ,2005,P 268*
3) *KHWESHKI ARZANI,DA ARZANI KULYAT, PASHTO ACADEMY,PESHAWAR UNIVERSITY,2005,P 356*
4) *https://adbimiras.com/nemat-e-arzaan-aik-mukhtasar-jayeza-by-sheeba-kausar/*
5) *ARZAN SHAHI,NAZEER AHMAD KHAN ,FATEH LUFTAH UDDIN MUHAMMAD,KHANQA HAZRAT DEWAN SHAH ARZANI PATNA IK TAARUF,MAKTABA ARZANI ,2003,P 1*
6) *ARZAN SHAHI,NAZEER AHMAD KHAN ,FATEH LUFTAH UDDIN MUHAMMAD,KHANQA HAZRAT DEWAN SHAH ARZANI PATNA IK TAARUF,MAKTABA ARZANI ,2003,P 4*
7) *https://magazine.mohaddis.com/home/articledetail/2578*
8) *KHWESHKI, DR PERVAIZ MAHJOOR, DA ARZANI KULYAT MUQADMA,PASHTO ACADEMY ,PESHAWAR UNIVERSITY,2005,P 63*
9) *MUKHLIS ,ALI MUHAMMAD,HALNAMA,PASHTO ACADEMY,PESHAWAR UNIVERSITY,2019,P 398*
10) *KHESHKI ,DR PERVAIZ MAHJOOR,DA ARZANI KHWESHKI KULYAT MUQADMA,PASHTO ACADEMY,PESHAWAR UNIVERSITY,2005,P 70*
11) *KHWESHKI ARZANI,DA ARZANI KULYAT, PASHTO ACADEMY,PESHAWAR UNIVERSITY,2005,P 306*
12) *LINK*
13) *https://www.urduweb.org/mehfil/threads/%D8%A7%D9%82%D9%88%D8%A7%D9%84-%D8%AD%D8%B6%D8%B1%D8%AA-%D8%A8%D8%A7%DB%8C%D8%B2%DB%8C%D8%AF-*

*%D8%A8%D8%B3%D8%B7%D8%A7%D9%85%DB%8C-%D8%B1%D8%AD%D9%85%DB%81-%D8%A7%D9%84%D9%84%DB%81-%D8%B9%D9%84%DB%8C%DB%81.92260/*

14) *KHWESAHKI ,DR PERVAIZ MAHJOOR,DA ARZANI KHULYAT MUQADMA,PASHTO ACADEMY,PESHAWAR UNIVERSITY,2005,P 63*

15) *ARZAN SHAHI,NAZEER AHMAD KHAN ,FATEH LUFTAH UDDIN MUHAMMAD,KHANQA HAZRAT DEWAN SHAH ARZANI PATNA IK TAARUF,MAKTABA ARZANI ,2003,P 5*

16) *https://m.facebook.com/story.php?story_fbid=pfbid0yHq4g3AAhyx1uXqDQyFzhTFfECg5xi8LmH6ke5LoVzvU3rBz3XFCHKcij861Spw6l&id=1309075156&mibextid=Nif5oz*

17) *ARZAN SHAHI,NAZEER AHMAD KHAN ,FATEH LUFTAH UDDIN MUHAMMAD,KHANQA HAZRAT DEWAN SHAH ARZANI PATNA IK TAARUF,MAKTABA ARZANI ,2003,P 13.14*

18) *KHWESHKI ARZANI,DA ARZANI KULYAT, PASHTO ACADEMY,PESHAWAR UNIVERSITY,2005,P 380*

19) *https://scholars.pk/ur/scholar/hazrat-sheikh-behlol-dryai*

20) *SAIYAD SHAFIQ AHMAD,TAZKIRA SAIYAD AHMAD BAD PA,SHOBA NASHAR O ASHAT,ASTANA DARGAH SHARIF, P 6*

21) *SAIYAD SHAFIQ AHMAD,TAZKIRA SAIYAD AHMAD BAD PA,SHOBA NASHAR O ASHAT,ASTANA DARGAH SHARIF, P 4*

22) *MUKHLIS,ALI MUHAMMAD,HALNAMA,PASHTO ACADEMY,PESHAWAR UNIVERSITY ,2019,P 63*

23) *http://dargahinfo.com/Dargah_History.aspx?HID=111*

24) *SHAHI,NAZEER AHMAD KHAN ,FATEH LUFTAH UDDIN MUHAMMAD,KHANQA HAZRAT DEWAN SHAH ARZANI PATNA IK TAARUF,MAKTABA ARZANI ,2003,P 5*

25) *KHESHKI ARZANI,DA ARZANI KULYAT,PASHTO ACADEMY,PESHAWAR UNIVERSITY,2005,P 364*

26) *ARZAN SHAHI,NAZEER AHMAD KHAN ,FATEH LUFTAH UDDIN MUHAMMAD,KHANQA HAZRAT DEWAN SHAH ARZANI PATNA IK TAARUF,MAKTABA ARZANI ,2003,P 12.13*